عبدالرحمن فرقانی
۲۰۱۵/۰۷/۱۱

# اسلامی نړۍ؛ مکار لوېديځ او ناهيلي مسلمانان!!

یادونه: په دې ليکنه کې د لوېديځ د لفظ څخه زموږ مراد د لوېديځ "استعماري ځواک" دی، نه د لوېديځ ټول ملتونه او ولسونه، چې د اسلام د سپېڅليو ارزښتونو سره سم موږ د هغوی سره په متقابل درناوی، ښه راکړه ورکړه او ښه معامله مکلف یوو.

لوېديځ داسلامي او درېيمه نړۍ هېوادونو پر وړاندې د تاريخ په اږدو کې تل دوه مخه، درېيمخه او آن .. مخه سياست خپل کړی دی. د خپلو مادي ګټو دخوندیتوب لپاره يې تل د نوموړو هېوادونو سياسي برخليک اوخپلواکي تر پښو لاندې کړې ده، پر نړۍ باندې يې د بشپړ تسلط او واکمنۍ لپاره تل نوموړي هېوادونه دخپلو نظامي او سياسي سيالانو پر وړاندې کړکيچونو او جګړو ته هڅولي دي، د ملتونو او حکومتونو ترمنځ يې تل د واټن او درز را منځته کېدو عوامل ايجاد کړي دي، د نه قانونيت او بې نظمۍ د فضا په را منځتکېدو کې يې رغنده ونده لرلې ده، د ديموکراسۍ په پلي کېدو کې يې غير واقعي او منطقي چلند تر سره کړی دی، داسلام د سپېڅلي دين سره د ترهګرۍ،سختدريځۍ او افراطيت د مفهوم د نښلولو په برخه کې او د نوموړي ښکارندې لپاره يې د اسلامي نړۍ د هېوادونو په زړه کې دشواهدو د رامنځته کولو هڅه کړې ده، د ترهګرۍ،سختدريځۍ او افراطيت سره د مبارزې تر عنوان لاندې يې په اسلامي نړۍ کې د مسلمانانو تر منځه هغه اور بل کړی دی، چې پکې د اسلامي نړۍ وګړي خپل ژوندونه په بې رحمانه توګه له لاسه ورکوي، د وژنې، رټنې او ځورونې لړۍ يې په نڼګينه توګه روانه ساتلې ده.

لوېديځ تل د ډيموکراسۍ د پلي کېدو او د ترهګرۍ سره د مبارزې تر غولونکي شعار لاندې د اسلامي او درېيمه نړۍ هېوادونو ته د لاسوهنې لپاره لاره هواره کړې ده، نه يې د مادي اړخه دغه وروسته پاتې هېوادونو ته هغه حقوق تامين کړي، چې ډيموکراتيک نظامونه يې په لوېديځ کې د لوېديځ وګړو لپاره تآمينوي او نه يې د ترهګرۍ هغه لړۍ پای ته رسولې، چې دوی يې د مبارزې لپاره نوموړو هېوادونو ته راغلي دي!! نو بيا ستونزه - د دې بحث تر څنګ چې ځينې شننونکي ورته اشاره لري، چې ګواکې موږ مسلمانان بې انصافي کوو، چې هره پېره د لوېديځ پر استعماري کړيو ور اچوو - چېرته ده؟، آيا ستونزه د اسلامي او درېيمه نړۍ په حکومتونو او ولسونو کې نغښتې ده او که بيا هم ستونزه په اصل کې لوېديځ ته ورګرځي؟ او ولې د اسلامي نړۍ ولسونه او په تېره بيا د افغانستان کړېدلی ولس د بشپړ نا هيلي حالت سره مخ دی؟.

هغه څه چې د نړۍ په معاصر تاريخ کې د ژور بدلون او نويو حسابونه او اټکلونو د را منځته کېدو لامل شول ، هغه پر افغانستان باندې د روسانو خونړۍ نظامي تيرى او د هغوی بشپړ شکست ؤ، دا هغه څه وو، چې د بشريت په تاريخ کې يې نوی لوری پرانستل، د افغانستان د جهاد په ډګر کې د نويو اندونو پر بنسټ نوی بهيرونه را منځ ته کړل، د بېلګې په توګه د افغانستان څخه خپلو هېوادونو ته د ستانه شوو عربانو سره د استبداد سره د مبارزې هوډ پيدا شو، د مستعمره هېوادونو د وګړو سره د استعمار پر وړاندې د خپلواکۍ د تر لاسه کولو لپاره د وسله والي مبارزې هوډ را منځ ته شو.. پخپله د را پرزول شوي روسي امپراتورۍ سره د مادياتي نظام( اشتراکيت) پر بنسټ د ځان جوړولو اړتيا محسوسه شوه، د لوېديځ سره په مسلمانانو کې د نوي جهادي ولولې د ځپلو او دهغوی سره د دښمنۍ تصور رامنځه ته شو...

په نړۍ کې د نويو اټکلونو ،حسابونو او ليدلورو محور په افغانستان کې د روسانو د اشغال پر وړاندې جهاد او وسلواله مبارزه ده، حقيقت دا دی، چې د نړۍ په کچه د افغانستان جهاد د نړۍ نوي جوړښت او د مبارزې نوي تکتيکونه را وزېږول، د لوېديځ پر وړاندې د اسلامي او درېمي نړۍ پر وړاندې د مبارزې لپاره نوي ډولونه رامنځ ته شول، د روسانو د امپراتورۍ له سقوط سره سم د اسلامي نړۍ پر وړاندې د لوېديځ درېځ توپير و موند، اسلامي نړۍ تر دې وروسته د لوېديځ لپاره د يوه دښمن حيثيت خپل کړ، نه دا چې د يوه متحد او دوست صفت ولري ، چې د روسانو تر سقوط وړاندې يې د لوېديځ لپاره درلود . لوېديځ د افغانستان د جهاد نه را زېږدلې د ولولو څخه ډکه انګېزه محسوسوله چې په مسلمانانو کې د وېښتابه نوې جذبه رامنځ ته کوي، نو بې درېغه يې د اسلامي نړۍ او په تېره بيا په افغانستان کې د يوه حقيقي اسلامي نظام د رامنځته کېدو مخه ډب کړه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

دا خو یو څرګند حقیقت دی، چې په معاصره زمانه کې بشریت ټول د افغانانو د سرښندنې پوروړی دی، ځکه چې افغانانو له یوه خونړي نظام څخه د ټول بشریت په ژغورنه کې مرکزي او اساسي ونډه درلوده ، او په کار ده، چې د افغانانو د نوموړې سرښندنې په پایله کې د بشریت وجدان افغانانو ته داسې پړ وي، څرنګه چې د لوېدیځ وجدان د یهودانو د مزعومې پېښې (هولوکوست!) په پایله کې تر نن پورې پړ دی او ځان د یهودانو پوروړی ګڼي!.
خو لوېدیځ د افغانانو د سرښندنې سره لویه جفا هغه مهال وکړه، چې د خپلو اصولو په رڼا کې یې په خپل کور"بون" کې ورته د یوه نا انډوله حکومت اساس کېښود، د دیموکراسۍ تر شعار لاندې یې د دیموکراسۍ خلاف د زور اوځواک پر اساس د ځینو سیاسي ځواکونو او نظامي ملیشو تر منځ واک تقسیم کړ او ځینې نور سیاسي او نظامي اړخونه یې ترې محروم کړل، او د نوی حکومت لپاره یې یو داسې مخالف قطب ایجاد کړ، تر څو د تصادم او ټکر زمینه په افغانستان کې په پرلپسې توګه شتون ولري..
د لومړي ځل لپاره افغانانو د دیموکراسۍ د اصولو پر بنسټ د خپل سیاسي برخلیک د سمون لپاره د ولسمشرۍ د ټاکنو پرمهال موکه تر لاسه کړه تر څو هغه کوږ تهداب سم کړي، کوم چې د دیموکراسۍ د ټیکدارانو له خوا په "بون " ښار کې د افغان ملت په حق کې ایښودل شوی ؤ، په دې هیله چې خپل برخلیک په خپل لاس وټاکي یې د ټاکنو ډګر ته په پوره زړورتوب سره راودانګل ، په ستره بیه او سرښندنې سره چمتو شول تر څو د دیموکراسۍ بهیر ته په افغانستان کې سمون ورکړي ... خو د دې ټولو سره سره بیا هم په افغانستان کې د افغانانو سیاسي برخلیک د افغانانو د ارادې سره سم ونه ټاکل شو، د تېر په څېر بیا هم لوېدیځ حاضر نه شو، تر څو افغانانو ته د دیموکراسۍ د اصولو سره سم د سیاسي برخلیک د ټاکلو حق ورکړي! د افغانانو سرښندنه بې ارزښته په خپل ځای پاتې شوه، د دیموکراسۍ بهیر د لوېدیځ د هماغه ټېکدارانو د هوا او هوس قرباني شو، چې په افغانستا ن کې د دیموکراسۍ د پلي کېدو تر شعار لاندې راغلي وو! او دا هغه څه دي چې د اسلامي نړۍ په ګڼ شمیر هېوادونو کې یې ښکاره او بربنډ شواهد موندلي شو، د الجزایر ، ترکیه ، تونس، مصر .... نه نیولې تر عراق، لیبیا، یمن ، سوریې...پورې.
د روسي امپراتورۍ د نړېدو څخه راپدېخوا لوېدیځ په اسلامي نړۍ کې رامنځته شوو وسله والو اسلامي خوځښتونو ته ځیر شو، او د خپلو اهدافو لپاره یې د اسلامي نظام د له ورانډې ځپلو او تضعیفولو لپاره ترې کار واخیست، د ځینو ډلو په کړنو یې د اسلامي ارزښتونو د تورنولو او بدنامولو هڅه وکړه او تر ډېره بریده په خپله دغه دسیسه کې بریا هم موندلې ده .. د نوموړو وسله وال حرکت تر څنګ په اسلامي نړۍ کې د معتدلو اسلامي ډلو بهیر( سیاسي اسلام) تر عنوان لاندې هم سر راپورته کړ او د دیموکراسۍ د اصولو سره سم یې د لوېدیځ سره لوبه پیل کړه او تر کومه بریده چې په ګڼ شمېر اسلامي هېوادونو کې د استبدادي حکومتونو د جبر او ستمه خلک بې زاره شوي ؤ د منځلارو اسلامي حرکتونو(سیاسي اسلام ) تر څنګ ودرېدل او دوی ته یې خپله رایه ورکړه، خو څرنګه مو چې وړاندې یادونه وکړه لوېدیځ حاضر نه شو، تر څو د دیموکراسۍ د پیلی کېدو لپاره ژمن پاتې شي او هغه اسلامي حرکتونو ته د واک او اقتدار چلولو حق ورکړي، چې د دوی د اصولو پر بنسټ د عامو خلکو لخوا پرې اعتماد وشو، او د عامو انتخاباتو په پایله کې یې د حکومت جوړولو او واک چلولو حق تر لاسه کړ ، زښت زیاتې نمونې او بیلګې زموږ پر وړاندې شته چې وړاندې مو ورته اشاره درلوده.
په ټول کې د افغانستان او اسلامي هېوادونو ملتونه د دیموکراسۍ د پروسې د تطبیق په اړه د لوېدیځ له څو مخه سیاست څخه ناهیلي شوي دی، که هر څومره نوموړي ملتونه د دیموکراسۍ له ښکارندې سره ریښتني دی، په هماغه کچه لوېدیځ د دغه ملتونو سره جفا کوي او د دیموکراسۍ لاسته راوړنې کله د استبدادي نظامي ځواکونو له لارې ځپي لکه په الجزایر او مصر کې چې په پای کې د دیموکراسۍ بهیر بېرته د صفر ټکي ته ورګرځوي ، کوم حالت چې له دې وړاندې په ټولنه کې استبداد حاکموي او کله د سیاسي جوړجاړي له لارې لکه په عراق او افغانستان کې چې په پای کې د دیموکراسۍ بهیر د خنډ او ځنډ سره مخ کوي او د خلکو اعتماد دیموکراسۍ په هکله له ستونزو سره مخ کوي او د بې قانوني او بې نظمي حالت را منځه ته کوي، د حکومتدارۍ په چارو کې د کړکیچونو د رامنځته کېدو زمینه هر مهال موجودوي.
لوېدیځ د څو مخه سیاست له کبله پړ دی، که یوه لور ته د دیموکراسۍ او بشري حقونو د تحقق شعار پورته کوي، خو بل لور ته په اسلامي هېوادونو کې د دیموکراسۍ د بهیر پر وړاندې پخپله خنډونه را منځته کوي او په دغه راز کړنو سره په اسلامي نړۍ کې د ترهګرۍ، افراطیت او سختدریځۍ عوامل رامنځته کوي.
لوېدیځ په اسلامي نړۍ کې د استبداد، بې نظمي او ترهګرۍ د تقویت له کبله پړ دی، اسلامي ملتونو پخپلو کړنو دا ثابته کړې، چې د استبداد، بې نظمي او ترهګرۍ په رټلو کې ریښتني دي او غواړي له دغو ناوړه ښکارندو څخه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځان وژغوري او داسلام د سپڅلي دين د ارشاداتو په رڼا کې چې د ټول بشريت لپاره سوکالي او سعادت غواړي ژوند وکړي، خو بيا همدا لوېديځ په پاى کې پخپلو کړنو ثابتوي، چې د اسلام او مسلمانانو خلاف خپلې توطيې او دسيسې يوه پر بله پسې پلې کوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ